# د ډېرو په سياست کښې د بدلون آغاز

شهاب خان اېډوکېټ

د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي سېکرټري اطلاعات ارباب محمد طاهر خان خليل او صوبائي جائنټ سېکرټري فاروق اېډوکېټ په لسم او يولسم اګست ۲۰۰۹ د ډېره اسماعيل خان د ضلعي تنظيم په بلنه د ډېره اسماعيل خان دوره وکړه.

په لسم اګست ۲۰۰۹ دواړه صوبائي مشران درې بجې ماسپښين ډېره اسماعيل خان ته ورسېدل. هلته د رسېدو نه پس د جلوس په شکل کښې سرکټ هاؤس ته بوتلے شو چې وروستو شپږ بجې مازيګر د ډي آئي خان ون تنظيم د سپوري لاندې يوه جلسه هم منعقد شوه چې صدارت ئې د سټي ون صدر عمر فاروق وکړو.

په دې جلسه کښې په سوونو خلقو ګډون وکړو. په دې موقع طارق خان ګنډاپور، سيف الرحمان خان بلوچ، چوهدري شاهد قريشي، ملک محمد يونس، تيمور اعظم، حيات پهلوان، اکرم خان بلوچ، امان الله بلوچ، دل آرام حسين بلوچ، محمد انور خان برکي، الياس، اسد خان، غياث الدين خان کنډي، مير احمد، شيخ محمد اکمل، يوسف هارون ناصر، محمد خالد بهټي، محمد ظفر، يونس خان اعوان سره د خپل خاندان او ملګرو په اې اين پي کښې د شموليت اعلان وکړو.

دې جلسې ته صوبائي ترجمان او سېکرټري اطلاعات ارباب محمد طاهر خان خليل، د ډېره اسماعيل خان ضلعي صدر شهاب خان اېډوکېټ او د سټي ون ډېره اسماعيل خان صدر عمر خطاب تقرير وکړو. دوي شموليت کونکو اهمو شخصياتو او ناظمانو ته هرکلے ووې. د عوامي نېشنل پارټۍ د امن پېغام ئې خلقو ته ورسولو چې دا پارټي د رنګ، نسل، ژبې او علاقې په بنياد نۀ بلکې د انسانيت په بنياد د عوامو د ترقۍ او خوشحالۍ دپاره جدوجهد کوي. دوي په دې خبره د افسوس اظهار وکړو چې د شپېتو کالو تېرېدو نه پس د ډېره اسماعيل خان په لکونو اېکړه زمکه للمه پرته ده. دوي ووې چې دا ډېره عجيبه خبره ده چې د پاکستان حکومت دا خبره خو ډېره کوي چې پاکستان يو زرعي ملک دے ولې زراعت طرف ته هيڅ توجه نۀ کوي. کۀ چرې دې علاقو ته اوبۀ ورکړې شي نو په ملک کښې زرعي انقلاب راتلے شي.

دوي ووې چې کومو خلقو د مذهب په نوم سياست کولو خلق د هغوي پاليسو او د دروغو د دعوو نه ډېر بېزاره شوي دي او د اين اې پي د موقف او منشور له وجې په دې کښې شاملېږي. دوي په مذهبي ډلو د تنقيد کولو په وخت ووې چې نن کوم خلق سياسي ريلۍ وباسي او احتجاجي سياستونه کوي د دوي په خپل پينځۀ کاله دور کښې خاموشه پاتې کېدل معني خېز دي ځکه چې د دوي په دور حکومت کښې د سامراجي قوتونو سره په شريکه د يو منظم سازش لاندې د پښتنو او د هغوي د وطن خلاف منصوبې جوړولې او پکښې ئې په لکونو ډالري ګټلې او په بدل کښې ئې د بېشماره

پښتنو وینې بهیولې. دوي ووې چې نن د د دغو وینو د حساب ورځ راغلې ده.

دوي زیاته کړه چې زمونږ ترقي په داسې صورت کښې ممکنه ده چې ټولو قومیتونو له د هغوي په وسائلو اختیار ورکړے شي چې ذکر ئې د ۱۹۷۳ په آئین کښې شوے دے. دوي ووې چې رهبر تحریک خان عبدالولي خان د ۱۹۷۳ په آئین په دې صورت کښې دستخط کړے ؤ کله چې پکښې د دې شق اضافه وکړې شوه چې لس کاله پس به پاکستان کښې مېشته قومیتونو له د هغوي په وسائلو اختیار ورکولے شي. خو د بدقسمتۍ نه د ۱۹۷۳ په آئین عمل ونۀ کړے شو.

هم په دغه ورځ یعني لسم اګست د شپې اتۀ بجې د یو سړک د افتتاح په موقع یوه جلسه د صنعت الله ګنډاپور په ځائے کښې وشوه چې پکښې صنعت الله ګنډاپور، ثناء الله خان، سراج خان، فاروق خان مروت، محمد فرهاد خان، عطاء الله خان مروت، جهان زېب خان داوړ، دوست محمد خان وزیر په عوامي نېشنل پارټۍ کښې د شمولیت اعلان وکړو. دې جلسې ته ارباب محمد طاهر خان خلیل، شهاب الدین خان ایډوکېټ او صنعت الله خان ګنډاپور خطاب وکړو. خلقو د عوامي نېشنل پارټۍ شکریه ادا کړه چې په ډېرو کښې د انتخاباتو بائللو باوجود د ډېره اسماعیل خان په ترقیاتي کارونو کښې پوره پوره دلچسپي اخلي. د پارټۍ مشرانو په دې موقع ووې چې پارټي د ټولې پښتونخوا د ترقۍ او خوشحالۍ په منصوبو عمل کوي خو د یوې جوړې کړې شوې منصوبې لاندې مونږ ته قسم قسم مشکلات پېدا کولے شي. چې په هغې کښې د ټولو نه اهمه دهشت ګردي او په خپلو وسائلو د اختیار نۀ لرل دي. دوي زیاته کړه چې موجوده جمهوري او مرکزي او صوبائي حکومتونه د دې ټولو حالاتو د مقابلې کولو توان لري او هغه ورځ لرې نۀ ده چې په دې ملک کښې جمهوریت مستحکم شي او د آمریت د دور ټولې زړې مسئلې حل شي.



په یولسم اګست ۲۰۰۹ د ضلعي کونسل اجلاس د ضلعي صدر شهاب خان په صدارت کښې وشو. په دې اجلاس کښې ډېره اسماعیل خان کښې د پارټۍ د تنظیم د نور چټک کولو د پاره ډېرې سودمندې خبرې وشوې. په دې موقع ضلعي عهدېدارانو مختلف تجویزونه هم پېش کړل او په ځنې سرکاري افسرانو ئې سخت تنقید هم وکړو د چا په وجه چې د پارټۍ د غړو په مسئلو کښې ورځ تر ورځه اضافه کېږي. ضلعي کونسل د ضلعي دفتر د پاره د دفتر مطالبه هم وکړه د کوم نه بغېر چې د پارټي د تنظیم چلول ډېر ګران دي. دوي غوښتنه وکړه چې په سرکاري نوکرو کښې دې د پارټۍ غړو له اهمیت ورکړے شي. ضلعي کونسل په ضلعي تنظیم د مکمل اعتماد اظهار وکړو او د هغوي کارکردګي

ئې وستائله او د ډېره اسماعیل خان د ترقیاتي منصوبو دپاره ئې د نور فنډ غوښتنه وکړه. ضلعي صدر شهاب خان په دې موقع نواب علي زے د ضلعي کونسل غړے نامزد کړو او صوبائي تنظیم ته ئې سفارش وکړو چې امان الله کنډي عرف منو خان دې د صوبائي کونسل غړے نامزد شي. دې اجلاس ته سېکرټري اطلاعات ارباب محمد طاهر خان خلیل، صوبائي جائنټ سېکرټري فاروق خان ایډوکېټ او ضلعي صدر شهاب خان خطاب وکړو او وې وئیل چې په ضلع کښې د پارټۍ با اختیاره اداره ضلعي کونسل دے، د دوي په سفارشاتو ضلعي تنظیم عمل کوي او د ضلعي ټول تنظیمونه ضلعي کونسل ته جوابده دي.

دوي ووې چې اې این پي یوائینۍ پارټي ده چې پکښې د هغې بنیادي فارم الف د رکن نه واخله تر مرکزي صدر پورې د یو جمهوري عمل په ذریعه ټول تنظیمونه جوړېږي او هر تنظیم خپل کونسل ته جوابده وي. دلته د نورو پارټیو په شان عهدې نۀ شي ورکولې. دوي ووې چې مونږ ته د ډېره اسماعیل خان د تنظیم او پارټۍ د کارکنانو د مشکلاتو احساس دے خو بدقسمتي دا ده چې په پارلیماني نظام کښې بعضې داسې خنډان مخې ته راځي چې د هغې په وجه دا مشکلات پېدا کېږي خو زمونږ صوبائي حکومت او د پارټۍ مخصوصو سیټونو باندې منتخب شوو غړو او سینټرانو د فنډ په ذریعه به د ډېره اسماعیل خان



غونډې ضلعو د مشکلاتو حل کولو کوشش کولے شي. چې د هغې ثبوت نن دلته د سړکونو او کوڅو جوړول دي.

د ماسپښین نه پس د فیض الله خان وزیر د سړک افتتاح وشوه چې پکښې د پارټۍ مشرانو او ګڼو غړو شرکت وکړو. د دې سړک د جوړولو دپاره د پښتونخوا وزیر اعلي یو کروړ روپۍ ورکړې وې. د افتتاح نه پس یوه جلسه د ستي صدر په مشرۍ کښې وشوه. چې ورته صوبائي سېکرټري اطلاعات ارباب محمد طاهر، صوبائي جائنټ سېکرټري فاروق خان ایډوکېټ، سابق صوبائي وزیر امان الله خان کنډي، ضلعي صدر شهاب خان، او فیض الله وزیر خطاب وکړو. دوي ووې چې اې این پي به په خپل پینځۀ کاله دور کښې د ډېره اسماعیل خان پسماندګي ختموي او دلته به په لفټ کېنال او نورو لویو منصوبو کار شروع کوي. چې د هغې سره به دلته نه د غربت او بېروزګارۍ خاتمه وشي او د یو نوي ژوند آغاز به وشي. دوي ووې چې په سوات او ملاکنډ کښې د دهشت ګردۍ خاتمه وشوه او ډېر زر به د ډېرو خلق هم د ویرې او ترهې د تیارو نه رابهر کړے شي. دوي په مذهبي ډلو د تنقید کولو په وخت ووې چې دوي د دهشت ګردو او تخریب کارو چا چې د پښتنو وینې بهیولې او د چا د لاسه چې په لکونو خلق بې کوره شو، مذمت قدرې ونۀ کړو بلکې د هغوي د بچ کولو دپاره ئې بیا بیا د فوځي کارروایو د بندولو مطالبې کولې خو د

پارټۍ درست موقف او په وخت او سکوټې فېصلې او د عوامو د تائید په وجه د دهشت ګردۍ مسئله قابو کړې شوه او هغو ځایونو کښې د یو نوي ژوند آغاز وشو. دوي ووې د ملاکنډ امن معاهده د عوامو د غوښتنې مطابق او د سمدستي انصاف ورکولو په خاطر شوې ده او پارټي نن هم په دې معاهده کلکه ولاړه ده او په دې به عمل درآمد یقیني کوي.

(لیکونکے د اې این پي ډېره اسماعیل خان ضلعي صدر دے.)